دَ طهارت ، مونځ احکام په شعرونو کښې

# مسائل دَ مونځ

## منظوم

تصنیف


مولانا احمد علی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمد یوسف بنوری ټاؤن کراچی


Ketabton.com


خورونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورستی روډ مردان 0312-9818511



مسائل دَ مونځ

منظوم

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

دَ طهارت ، مونځ احكام په شعرونو كښي

# مسائل دَ مونځ

## منظوم

تصنيف

مولانا احمد علي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه محمد يوسف بنوري ټاؤن كراچي

ناشر

اسلامي ادبي تولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمٰن الرحيم

## وَ صلی الله تعالیٰ علی النبی الامّی

## حمد باری تعالیٰ

په نامه مې ستا مولا! نن ابتدا کړه
چې زمونږ دَ پاره تا پيدا دُنيا کړه
په کښې نمر سپوږمې پيدا کړل تا هم ستورې
جوړه تا ورسره دلته کښې ښُکلا کړه
غرونه، ونې بوټې تا دلته پيدا کړل
په مارغانو تا حسينه پاس فضا کړه
سيلابونه، دريانه چې بهيږي
همه واړه ستا دَ حکم اقتدا کړه
هر يو ستا نه مدد غواړي لويه خدايه
تيارهٔ ختمه هميشه تا په رڼا کړه
دَ حکمت نه خالي نهٔ دے دا جهان
کهٔ پيدا ورله دې ورځ هم دَ فنا کړه
رَبه! ستا په هريو څيز کښې حکمت پټ دے
سلسله کهٔ شورو تا دَ انبياء کړه
نبوت تا شورو کړې له آدمٌ نه
بنده تا دا سلسله په مصطفیٰ ﷺ کړه
ورله تا ورکړے رَبه! حق کتاب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې تاورته ناداں سړیه! شا کړه
په کښې ربّ اصول راکړي ټول دَ ژوند دي
هوښیارانو ورسره مدام وفا کړه
دا بُنیاد دَ شریعت دَ دین اسلام دے
نادانو ورسره دلته جفا کړه
ما احمد علی ! په دې یقین ساتلے
ورسره مې ختمه پاس دغه وینا کړه

..................................................................

## زما عقیده

ما ایمان راوړے دے په ربّ غفار
چې تنها دے ټل زما پروردیګار
فریښتو باندې یقین لرم ایمان
عبادت کوي په جمع دَ سبحان
کتابونه چې نازل دي له آسمانه
زهٔ ایمان لرم په ټولو له پخوانه
رسولان چې دغه ټومره په جهان دي
شامل ټول زما هروختې په ایمان دي
زهٔ ایمان لرم په ورځ هم دَ قیامت
دا منمه هرطرف ته حقیقت
هم مالك دَ خیر او شر دے یو اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هر څه پوره خبر دے یو الله
په تقدیر لرم ایمان پوره یقین
عقیده ساتمه دغه بهترین
مخلوقات به په پس له مرګه جمع کیږي
له دې ټولو نه کامل ایمان جوړیږي
په الله ایمان لرم زه په دا شان
لکه څنګ چې په نومونو دے بیان
څنګ منلی ما دَ ربّ چې صفات دي
قبول کړي ورسره ما احکامات دي
زهٔ په ژبه مدام کووم دا اقرار
هم په پټه دا منمه هم په جار
مختصر دے ایمان دَ مسلمان
ما الحمد علی کړهٔ ذکر په ښهٔ شان

---

تقسیم دَ احکاماتو دَ اسلام
دَ اسلام احکام بیان چې د دُنیا دي
شریعت کښې څهٔ روا او ناروا دي
دغه دوه قسمونه دي په شریعت کښې
موجود ټول دي مسلمانه! عبادت کښې
په روا کښې فرائض او واجبات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسـره پــه څـنګ سـنـت مستـحبـات دي
دا روا کــارونــه ټــول شــول څلــور
نــاروا دي عــلاوه ددې نــه نــور
دا کــارونــه ټـولــو څلــورلــري ثــواب
پــريښــودلــو کښــې دَ څـنــو شتــه عـذاب
نــاروا کــارونــه دوه ديــن اســلام دي
مــکــروهــاب ورســره پــه څـنګ حــرام دي
بــل يــو قســم شتــه مبــاح ددې دُنيــا
دَروا او نــاروا نــه تــول جُــدا
پــريښــودل کــوُل ئــې دواړه بــرابــر دي
عــالــمــان داســې کــارونــو نــه خبــر دي

................................................................

## فرض

اول فــرض ضــروری پــه هــر مــقــام دے
دا لازم پــه هــر بشــر پــه خــاص او عــام دے
ميــلاويــږی پــه کــوُلــو ئــې ثــواب
پــريښــودلــو کښــې ئــې شتــه دے ډيــر عــذاب
دا دليــل ســره ثــابــت نــه دَ قــوی نــه
پــه دليــل ســره ثــابــت وی لــه قــطــعــی نــه
فــرضيــت نــه چــې ددغــې کــړی انــکــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــخـــــالف شـــــى دَ مـــولا پـــروردیـــګـــــار
بـــي لـــــه عـــذره چـــي څـــوك پـــریـــږدي داعــمـــل
عـــذابـــونـــــه ورلـــــه شتـــــه پـــــه هـــر مـــحــــل
بـــي لـــــه عـــذره چـــي دا پـــریـــږدي مسلـمـــــان
فـــــاســـق كیــــــږي ورســـــــره هـــریـــوانســــــان
مستـــــحـــــق بـــــه ورســــــره شـــــى دَ عـــــذاب
هـــم مـــحــــروم بـــه پـــه دُنیـــا شـــى لـــه ثـــواب
پـــــــه دوه قـســــمــــــه دغـــــه فــرض د دُنیــــا دي
یـــو دَ بـــل نـــــه بـــــه پـــوره پـــوره جـــدا دي
فــــــرض عیــــن ســــره یـــــادیـــــــږي اول قسـم
هـــــــرطـــــرف تـــــــه ادا كیـــــــږي اول قســـــم
دا لازم پـــــــــه هـــــــربشـــــــروى دَ هـــــــــردر
پـــــه شـــرطـــونـــو چـــي وى څـــوك بنـــــۀ بـــرابـــر
چـــي لـــــه چـــــا دغـــــه پـــاتـــي پـــه دُنیـــا شـــى
مستـــــحــــــق دَ عـــــذابـــــونـــــودَ مــــولا شـــــى
فـــرض عیـــن پـــــه هـــر بشـــر فـــرض تـمــــام وى
هـــر بشـــــر بــــــانـــدي لازم پــــه خپـل مـقـــام وى
مثــــال دا لـــــرى پـــنــــځــــه وختــــه مـونـځــونــــه
ورکـــوى چـــي پـــــه دُنیـــــا څـــوك زكـــــاتـــونـــــه
نـــور هـــم ډیـــر شتـــه مثـــالـونـــه پـــه هـــردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبروُی ځان همیشه دلته هوښیار

کفایه قسم دے دَویم دَ شریعت

مسلمان ته دے معلوم ئي حقیقت

کفایه فرض نه وی په هر بشر

هر مؤمن ئي دے له حکم نه خبر

جنازه ددي مثال په هر قدم دے

حکم نه ئي خبردار دغه عالَم دے

دوه قسمونه شول دَ فرض زما وروره!

کتابونه ښه تفصیل له نور گوره

چي له فرضو نه منکر وی نو کافر دے

ورله حکم دغه هرخواته ظاهر دے

.....................................................................

## واجب

فرض پسے واجبات دی مسلمانه!

لازمی دا احکامات دی قدردانه

واجبات هغه کارونه دَ اسلام دی

چي لازم په هر بشر په خاص او عام دی

په ظني دلیل ثابت چي په دُنیا وی

دا واجب به هر طرف ته خامخا وی

پریښودو کښي ئي عذاب شته مسلمان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریښودو کښي ئي عذاب شته هر انسان له
دَ واجب منکر کافر نه دے اسلام کښي
دغه حکم ما لیدلی په احکام کښي
پریښودونکي ئي فاسق په هر قدم دے
دغه حکم ښۀ ښکاره ددي عالَم دے

-----

## سنت

دریم سنت دے په واجب پسے انسانه!
طریقه دَ پیغمبر ﷺ ده را روانه
هغه کار چي کړے وی زمونږ رسول ﷺ
یا ګفتار چي کړے وی زمونږ رسول ﷺ
ورته وائی دَ رسول اللّه ﷺ سنت
یا خاموشه په یو کار شی پاك حضرت
دا عمل دا طریقه ښکاره سنت ده
دا حصه زمونږ د دین دَ شریعت ده
په دوه قسمه کښي تقسیم دغه سنت دے
هغه کار چي نقل شوے له حضرت ﷺ دے
کۀ ئي پریښي وی یو ځلي په دُنیا کښي
دغه غیر مؤکده شو په وینا کښي
مؤکد هغه سنت دَ پیغمبر ﷺ دی

چې واجبو ته نزدې په لراوبردی
پرېښودلو کښې ګناه ئې په جهان ده
حق حصه زمونږ دَ دین دَ حق ایمان ده
مستحق دے هغه کس دَ ملامت
چې څوك پرېږدی په دُنیا دغه سنت
هم محروم به وی هغه له شفاعت نه
په محشر کښې دَ حضور ﷺ دَ محبت نه
دا سنت مؤکده په هر قدم دے
ښۀ پوره پوره خبر له دې عالَم دے
پرېښودلو کښې چې نۀ لری عذاب
هغه غیر مؤکده دے په هر باب
بس ثواب دے ګټه تول دَ جهان ده
دا ښکلا ده هم زښا دَ مسلمان ده
هر سنت کښې دَ محشر ګټه پرته ده
هر بشر له برابر ګټه پرته ده

---

## مستحب

په سنت پسے نمبر دَ مستحب دے
شریعت کښې بهتر غوره په طلب دے
چې ثابت ئې فضیلت دے شریعت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــان خبــر کــړه ددې کــار لــه حـقـيـقـت نـه
پــريښــودلــو کښــې هيــڅ نــه لــرى عـذاب
مستــحــب دے چــې کــوُل ئــې وى ثــواب
مستــحــب بــانــدې راضــى مـدام اَللّٰــه وى
ورســره دَ مــصــطــفــىٰ ﷺ شــامـل رضــا وى
ثــوابــونــه ددې کــار شتــه طـلبـګــار لــه
نـعـمـتـونــه ددې کــار شتــه طـلبـګــار لــه
ګــنــاه ګــار نــه دے چــې پـريــږدى مستـحـب
نــه دَ ربَ دے دَ خـفـګــان چــالــه سبـب
مستــحــب لــرى لــوئــې شــان دا حـقـيـقـت
دَ مــحـشــر دَ پــاره حُسـن دے عـــزت

.....................................................................

## خلاصه

دا څــلــور کــارونــه تــول دى دَ کــوُلــو
نــهٔ دى نــهٔ دى پــه هيـڅ شــان دَ پــريښــودلـو
يــو شــو فــرض بـل واجــب بـل دے سـنــت
مستــحــب کــار څــلـورم دَ شــريـعـت
دَ کــوُلــو دا کــارونــه پــه جهــان دى
رنــاګــانــې هــريشــر لــه دَ ايـمــان دى

.....................................................................

# حرام

منع کړې څه کارونه شریعت دي
ناروا کښي ټول شامل په حقیقت دي
په حرام سره یادیږي هغه کار
چې خوښ نه وي دَ مولا پروردیګار
چې ئې منع په دلیل ښکاره قوي وي
لري لري تا له تلل چې ضروري وي
ځان خبر ساته چې هغه کار حرام دے
چې دَ زهرو په شان نوم ئې ټول تمام دے
دَ حرامو نه منکر سړې کافر دے
دغه حکم دَ اسلام ښکاره ظاهر دے
مستحق دَ هر عذاب په قدم دے
مبتلا چې په کښي کُوم بني أدم دے
دَ فاسق په نامه یاد په هر قدم دے
هر طرف ته ورته غم دے هم تورتم دے

----------------------------------------

# مکروه تحریمي

هغه کار چې شریعت کښي نه خوښیږي
په مکروه سره په نوم مدام یادیږي
کهٔ مکروه وي تحریمي په کښي عذاب شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــنــزيهـــی کېښـــي کـمـيــدل دَ حـق ثــواب شتــه
چـــي ثــــابـــت وی پــــه دليـــل ســـره دَ ظـــن
دَ عـــذاب مستــــحـــق کيـــږی هـــغـــــه تـــن
تــحـــريــمـــی کــــارونــــه هــغـــه دَ دُنيـــا وی
چـــي نـــاخـــوښـــه شــريــعـت کښـي دَ مـولا وی
تــول مــکـــروهِ تــحـــريــمـــی دَ ددې عـــالَـم دی
نـــــاروا دغـــــه کـــــارونــــه دَ تـــورتـــم دی

.........................................................

## مکروهِ تنزيهی

پــريښـــودلــو کښـــي چـــي کــلـــه ئـي ثــواب وی
پـــــه کــولُــو نـــه ســزا نـــه ئــي عـــذاب وی
پـــريښـــودل چـــي کـــلـــــه غـــوره دَيـــو کـــار وی
پـــريښـــودل چـــي کـــلـــــه غـــوره ديـــو لار وی
دا مـــکـــــروهِ تــــنــــزيهـــی دے زمـــا وروره!
مثـــالـــونــــه ورلــــه تــــهٔ خپـــلـــه اُوګـــوره

...........................................................

## دَ اودس طريقه

طـــــريـــقــــــه دا ســــي بيــــــان ده دَ اودس
چـــي دَ مـــونـــځ کـــړي اراده کـــلــــه يـــو کَـــس
لـــوښـــی پـــاك کښـــي، اُويـــهٔ پـــاکـــي مسلمـانـــه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستل اول په کار دی اے انسانه!

هم پاك والے ضروري دے دَ مکان

چې ګنده ورسره نه شي دا انسان

په طرف دَ قبلې ناسته ده اول

خیال ساتل دی دَ پاکي په هر محل

ښهٔ په ښکلي انداز ناسته ده پکار

په مزه مزه اَودس کوی هوښیار

انغښتل دَ خپل لوستونو په اول دی

بسم اللّه ورپسې وروستو بیا وئیل دی

هر عمل دے دا ثابت له شریعت نه

ځان خبر کړه دَ اودس له حقیقت نه

بیا لاسونه مټو پورې ټول وینځل دی

ښه په پوره پوره ورسره ټول مږل دی

خله کښې درې ځلې اوُبه دی اچول بیا

ورسره دی برابر مسواك کول بیا

کهٔ مسواك وی نو مسواك کول بهتر دی

لوئي واړه ئې فضیلت نه ښهٔ خبر دی

بیا دی پوزه کنګالول پوره درې ځله

صفا کول په ښهٔ انداز ده پوزه خپله

ورپسې دَ پوره مخ تاله وینځل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه لاســـو ســــره مــخ پــوره مــــېل دی
دَ یــو غــوړ نـــه دَبــل غــوړ پـوري انســـانـــه
حـــد دَ مــخ دے ځـــان کـــړه مسـلــمـــانـــه
دَ تـــنـــدی ســـره دَ ځـــنـــي لانـــدي تـــول
پـــه ویــنــځــولــو کښـي دی تـــالـــه شـامـلـول
بیـــا لاســـونـــه دی ویــنــځــل تـــر څـنـګـلانـو
ځـــان ســـاتـــي خبــر لـــه دغـــي مـؤمـنـــانـو !
دَ ســـر مســـح وریســـي پـــه شـــریـعــت شتــه
دَ اودس دا طـــریــقـــه پــــه دي حـقیـقــت شتــه
وریســـے دَ خپــو ویــنـــځــل پـــه مسـلـمـــان دی
پـــه تـــرتیـــب مـــا ذکـــر کـــړي پـــه جهـــان دی
اول ښـــي انـــدام ویـــنـــځـــل دی پـــه هـــر مـقـــام دی
دا واضـــحـــه تـــول حـــکـــمـــونـــه دَ اســلام دی

---

## دَ استنجا بیان

ګـــنـــدګــــي ســـره پـــلیـــت چـــي دا بـــدن وی
استـــنـــجـــا هـــلـــه لازم پـــه دغـــي تـــن وی
کـــهٔ اوبـــه وی نـــو اوبـــه دي استـــعـــمـــال کـــړي
ګـنـدګـي لـــه تـن نـــه ختـمـــه دي هـــر حـــال کـــړي
کـهٔ وی بـولـو تـــه څـوك نـاست میدان صحـرا کښـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال دي کړي بيا لوټه استنجاء کښي
چي پاك والے کله راشي په جهان
استنجاء شوله پوره ددي انسان

--------------------------------------------------------

## دَ استنجا مکروهات

په کېړه هم په کوئيله چي استنجاء کړي
ځان خبر کړه دي مکروه کړي ناروا کړي
دَ کاغذ استعمال منع دے اسلام کښي
حکم دغه ماليدلي په احکام کښي
په هډوکي باندي منع استنجا ده
فيصله دَ شريعت دا په دُنيا ده
استعمال په کښي دَ سوتي ناروا دے
چاسره چي استنجا له په دُنيا دے
استعمال دَ ګندګي کښي کراهت شته
حکم دغه ښه ښکاره دَ شريعت شته
استعمال دَ ښي لاس منع دے هر چاله
چي ځوك لاړ شي په دُنيا کښي استنجاء له
دَ اسلام دَ شريعت دا فيصله ده
دَ مکروه اعمالو بيره تذکره ده

--------------------------------------------------------

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ اودس څلور فرض

مخ پسے لاسونه مسح بیا دَ سر
دواړه خپې وینځل دی فرض برابر
دغه فرض دَ اودس دی ټول څلور
نیشته نیشته علاوه ددې نه نور
که یو پاتې شو له دې نه ناتمام دے
دا اودس چې دلته کړے خاص او عام دے
ښه پوره پوره وینځل دی دَ ټول مخ
ښه پوره پوره مښل دی دَ ټول مخ
اول فرض په اودس کښې دغه یاد کړه
مخ پسې دواړه لاسونه خپل وینځل دی
دَ څنګلو سره دا پوره مښل دی
بیا دَ سر مسح پکار ده ټوله ټوله
فرض دا په هر دربار ده ټوله ټوله
څلورمه حصه مسح حق دَ سر ده
فرائضو کښې په شمیر کړے هر بشر ده
دَ ګټو سره دَ خپو وینځل لازم دی
دا په پاکو په اوبو وینځل لازم دی
دا څلور شول دَ اودس فرض تمام
ځان خبر دې کړي له دې نه خاص او عام

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ اودس سنت

په شمیر دیارلس په اودس کښې ټول سنت دي
دغه ټول مقرر کړي شریعت دي
په اول کښې همیشه دَ ټولو نیت وي
چاته یاد چې دَ رسول الله ﷺ سنت وي
بسم الله وئیل سنت دَ پیغمبر ﷺ دي
هوښیارانو ته ده پته ښه خبر دي
وینځل درې پیرې لاسونه په جهان شته
په سنتو کښې دَ خوږ نبي سلطان ﷺ شته
دَ اودس په سنتونو کښې مسواك دے
علامت دَ نیك عمله سړي پاك دے
خُله وینځل مسنون دي درې ځلې هر چاله
چې راځي درته په مینه هر څوك خواله
په سنتو کښې دَ پوزې هم خلال دے
ورسره ئې دَ وجود دَ تن جمال دے
اوبه درې ځلې دَ پوزې هم سنت دي
څومره ښکلي دا اعمال دَ شریعت دي
تل وینځل دي درې ځلې دَ هر اندام
په سنتو کښې راغلي دا مدام
په سنتو کښې پوره مسح دَ سر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل شوې طريقه دَ پيغمبر ﷺ ده
دغوږونو مسح شته ده هر بشر له
حکم دغه دې غريب له هر افسر له
په اودس کښې بل سنت موجود ترتيب دې
نقل شوې دا ترتيب له رب حبيب دې
هم خلال دَ ګوتو تولو دې سنت
دا حصه ده په دُنيا دَ شريعت
مسلسل اودس کول مسنون عمل دې
دغه شمير ورسره تل په هر محل دې

..........................................................................

## دَ اودس مستحبات

تول پنځه خيزه اودس کښې مستحب دي
خوښ په هر مقام دُنيا کښې دا دَ رب دي
ښي طرف نه شروع کول مدام اودس
مسنون دغه دې عمل دَ هريو کس
دَ څټې مسحه شريعت کښې مستحب ده
مسئله زمونږه دا هم دَ مذهب ده
په اودس کښې مدد نه اخستل بل نه
مستحب دي مدد نه اخستل خپل نه
دا رنګ ناسته په صفا مقام اُوچته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحب دغه عمل دے نیك سیرته!

..................................................................

## دَ اودس مکروهات

په اودس کښې شته مکروه څیزونه ډیر
مسلمانه یاد ساته ، نشی دې هیر
په ګنده ځائې کښې اودس کول انسان له
دا مکروه عمل راغلے مسلمان له
صفائی کول دَ پوزے په ښی لاس
دا مکروه ګڼی چې څوك لری احساس
بیا خبرې په اودس کښې دَ دُنیا هم
مکروهاتو کښې ده شمیر دغه وینا هم
هر اودس چې دَ سنتو وی خلاف
مکروه حکم هرطرف ته لری صاف
مکروهات دی دَ اودس دغه څلور
علاوه ددې نه شته په جهان نور

..................................................................

## نواقض دَ اودس (دَ اودس دَ ماتیدو څیزونه)

چې څه څیز شی له بدن نه رابهر
ورسره اودس ماتیږی دَ بشر
هم ماتیږی په هوا بدبُو اودس

خامخا به کړي اودس داسي هر کس
مونځ کښي زور سره خندا دَ هر بشر
ماتوي اَودس دُنيا کښي برابر
په اُلټو اَودس ماتيږي هر طرف ته
دغه حکم بيانيږي هر طرف ته
دَ انسان نه چي مجنون جوړ شي دُنيا کښي
اودس مات شي ورسره په ابتدا کښي
وينه شي چي له بدنه رابهر
اَودس مات شي ورسره دَ هر بشر
ګندګي، زوي بهر شي چي له تن نه
دي سبب دَ اودس ماتي له بدن نه
هغه خوب چي وي په ملاسته يا په ډډه
ورسره اودس ماتيږي مخاطبه!
بيهوشي سره ماتيږي هر اودس
ناخبره چي له ځان نه شي يو کس
تول اته شول صورتونه دَ جهان
اودس دي سره ماتيږي دَ انسان

---

## دَ غسل طريقه

طريقه دَ غسل شته په شريعت کښي

بیان شوي دَ نبي ﷺ ده په سیرت کښې
په وینځلو دَ خپل لاسو ابتدا کړه
آغاز دې سره دَ غسل په دُنیا کړه
دَ خپل تن نه ګندګی لرے کړه وروره !
دَ بدن نه ګندګی لرے کړه وروره!
استنجا ورپسې بیا په خاص او عام شته
طریقه داسې موجود ټوله تمام شته
اَودس اُوکړه ورپسې پوره تمام
دا مسنون عمل هیر نهٔ کړے دَ اسلام
اُوبه واچوه بدن باندې بیا وروره !
اُوبه واچوه ټول تن باندې بیا وروره!
پاتې نشی چې اوچ ځائې دے په بدن کښې
طریقه دغه موجود ده هر وطن کښې
اُوبه واچوه درې ځله په بدن خپل
چې اوچ پاتې درنه نشی دغه تن خپل
دَبدن مږل په لاسو دې پکار
دا دَ غسل طریقه ده په هر دار
هم په خله او پوزه کښې اُوبه اوچول دی
طریقه دَ شریعت دا نقل کول دي
دا کامله طریقه شوله دَ غسل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا کامله تذکره شوله دَ غسل

..............................................................

### دَ غسل فرائض

درې په غسل کښې تول فرض په جهان دی
ښه خبر له دغې فرضو عاقلان دی
کنګالول دَ خلې اول فرض کړه یاد
دې سره دَ غسل کیږده خپل بُنیاد
بیا په پوزه کښې اُوبه اچوُل دی فرض
ښه انداز سره دا ښه اچول دی فرض
تول بدن بیا په اُوبو پوره لمدول دی
همیشه داسې هرخواته غُسل کول دی
درې دا فرض شول تمام دَ شریعت
یاد ساته په هر مقام دا هرساعت

..............................................................

### دغسل سنت

تول په غسل کښې پنځه سنت بیان دی
ناخبره خلق واړه نادان دی
دَ بندونو پورې لاس دا خپل وینځل دی
ناپاکی له خپل بندن نه لرکوُل دی
هم دَغسل نیت مسنون په کښې تمام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه حکم ښهٔ ښکاره د دین اسلام دے
مخکښې غسل نه اَودس کول مسنون دي
رناګانې هر بشر له دَ ژوندون دي
دَ اوبو هم بهیدل په تن سنت دي
عاقلان پوره خبر له شریعت دي
طریقه دَ هر مسنون غسل دَ پاره
فائده واخله دَ احمد تهٔ له اشعاره

---

## دَ غسل مکروهات

تول په غسل کښې مکروه دي څلور کاره
یاد کړهٔ ، تهٔ کهٔ ئې دَ علم طلبګاره
په بدن چې کپړې نه وي بیا کلام
منع دلته شریعت کښې دے تمام
مخ قبله ته یا قبلې ته شا کول
مکروه دا دي هر بشر له دا کول
هریو غسل دَ سنت چې وي خلاف
مکروه حکم هلته کښې مدام وي صاف
هم زیات والے دَ اوبو دَ استعمال
مکروه دي ، چې څوك ئې نه ساتی نن خیال
دا مکروه اعمال دَ غسل شول تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیـــال پـکـــار دے چـي ســاتـــی ددي عــوام

.....................................................................

## دغسل قسمونه

پـــه دري قسـمـــه بـانـدي غسـل د انســان دے
مستـحـب ، سـنـت یــا فـرض پــه جهــان دے
کــلـــه کـلـــه پـــه واجــب فــرض یــادیـــږي
پـــه انســـان چـــي غســـل کـلـــه لازمیـــږي
غســـــل نـــوم دے لـــمـــــدوُل دَ تـــول بـــدن
بهیــــدل دی دَ اویـــو پـــــــه دغـــــي تـــــن
ورســـره شتـــه مـضـمـضــه هــم استـنشــاق
بهتـــریـــن دغــــه عـمــل دے پـــه أفـــاق

.....................................................................

## بیان دَ فرض او واجب غسل

زنـــانـــه بـــانـدي چـــي تیـرشـی حیض نفـــاس
فـــرض غسـل پـــه تـکـمیـل شـــی پـــه احســاس
چـــي مـنـــی شـــی پـــه شهـوت لـــه تـن بهـــر
غســـل دلـتـــه واجبیــــږی پـــــه بشـــــر
څـنـګـــه غسـل چـي مـذکـور پــه مـراتـب دے
پـــــه دُخـــول دَ حشـــفـــي ســـره واجـــب دے
واجبیـــــږی غســــل هـــم پــــــه احتـــلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــاد ســاتـــه درنــــه هيــر نشــي دا احــكــام
چـــي ګــنــده شـــي دَ انســان خـوب كښــي بــدن
ورتـــه ځـــائــي ګــنـده مـعـلـوم نــه وي دَ تــن
غســــل هـــم ورســــره دلتـــــه واجيـــــږي
چــي انســان تــه ګــنده ځــائـي نــه معلوميــږي
بشــر هـغــه چــي رخـصــت شـي لــه دُنيــا نــه
غســل وركـــړه ورلـــه دلتـــه كښــي انســـانـه!
دغـــــه غســـل وركــول دلتــــه واجـــب دي
لازم دا مســـلـــمـــان هـــريـــو طـــالـــب دي

..............................................................

مسنون غسل

دَ جـــمـــعـــي دَ ورځـــي غســـل دے مســنــون
پــــه دُنيـــا چـــي تيـــروُے دلتـــه ژونـدون
دَ وقـــوفِ عـــرفـــات غســل پــكـــار دے
پــــه ســنتـــو كښـــي دَ سيَـدالابـــرار ﷺ دے
غســـل دا رنګ هـــريـــو مــونـځ لـــه دَ اختــر
مســنـــون دغـــه دے عــمــل دَ پيــغــمبــر ﷺ
مســـنـــون غســل دے احـــرام لـــره مــدام
دا عـــمـــل دے دلتـــه كښــي كـوي عـــوام

..............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مستحب غسل

پس دَ مړي لامبولو نه انسانه!
غسل اُوکړه مستحب امے مسلمانه!
سپوږمي اُونيسي چې تندر دَ آسمان
مستحب ورسره غسل دے بيان
دَ صلوة الاستسقاء دَ مونځ دَ پاره
شته دے غسل مستحب عاقل هوښياره
نور ددې نه علاوه ډير مقامات دی
شامل هغه ټول زمونږ په عبادات دی

---

## دَ تيمم بيان

اول فرض تيمم دَ پاره نيت دے
حکم دا مونږ ته راکړے شريعت دے
دوه ضربونه بل يو حکم دَ جهان دے
امر کړے مونږ دا ته غني سبحان دے
دواړه لاسه په خورو پوره وهل دی
بيا لاسونه ټول په مخ پوره مږل دی
دوباره وهل دی بيا په خورو لاس
چې په شان لکه دَ نيت لري اساس
لاس په لاسو دی راښکل ترځنګونانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان کړه پوهه له نیکانو صالحانو
دغه درې فرض دي ټول دَ تیمم
ضرورت وخت کښې دي کول دَ تیمم

---

## دَ تیمم متفرق حکمونه

چې شی ویلی اویا اُوسوځی په اُور
هغه سپین کهٔ جهان وی یا کهٔ تور
تیمم په هغې نه کیږی انسانه!
نور ځیزونه لټوه اے مسلمانه!
پاکه خوره شوړه دې لره پکار ده
دا تحفه ډالې دَ حق پروردیګار ده

---

## دَ مونځ طریقه

په نامه دَ پاك سبحان مې ابتدا ده
چې محکمه، ښه صادقه ئې وینا ده
بیانوومه طریقه دَ مونځ ګزار
دَ الله نه دَ مدد یم طلبګار
توفیق راکړے اے مولا! دَ ښه بیان
چې راضی رانه شے ته په هر مکان
دا عمل زما توښه چې دَ محشر شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول روښانه ورسره زما قبر شي
ناخبر له سبب دَ هدايت شي
ورسره ورته نصيب هر سعادت شي
رابيداره ورسره هريو انسان شي
مستحق دَ نعمتونو په جهان شي
چي دَ مونځ په اراده اُدريږي ربّ ته
توجه دي هر ساعت لري ادب ته
په اخلاص په توجو به دي اُودريږي
دي سره دَ مونځ آغازوي شورو كيږي
مخ قبلې ته به كړي بيا دغه انسان
خيال ساتي به ورسره ددي بيان
كپړې، تن بدن به پاك ددي بشروي
پاك به هم دَ مونځ دَ پاره هغه دروي
دا شرطونه دي هر مونځ له ابتدا كښي
عبادت كوه مدام دَ دين رڼا كښي
مونځ ته اُوديږي چي كله يو انسان
خپل لاسونه به اُوچت كړي دَ جهان
دا لاسونه تر غوږونو اُوچتول دي
دَ اسلام په احكاماتو عمل كول دي
ورسره به تكبير وائي مونځ گزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرضيت نه دي نه کړې څوک انکار

ابتدا کښې دَ هر مونځ الله اکبر دے

ورسره دَ مونځ آغاز په هر يو در دے

دَ سجدې ځائې ته به ګوری دا انسان

مونځ ته اُودريږي چې کله مسلمان

دَ تکبيرِ تحريمې نه پس ثنا ده

طريقه دَ خوږ نبی دَ مصطفیٰ ﷺ ده

ثنا وائی به په پټه مسلمان

نقل شوے دا بيان دے په جهان

لوستل وروستو له ثنا نه تسميه دی

برکتونه ورسره په هر حصه دی

تعوذ ورپسې وروستو په جهان دے

هر طرف ته راپسې ځکه شيطان دے

تعوذ وئيل راغلی دی سنت

ورسره دي له شيطان نه حفاظت

فاتحه ورپسې وروستو دی لوستل

ځان له مونځ کښې دا په پټه دی وئيل

فاتحه مونځ کښې لوستل ورور! واجب دی

لازمی دغه يادول په هر طالب دی

تلاوت دَ فاتحې چې مکمل شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سورت دَ فاتحې چي مکمل شي
ورپسې آمین وئیل هرخوا مسنون دي
رڼاګانې برکتونه دَ ژوندون دي
په آمین پسې لوستل بیا دَ سورت دي
څوك خبر چي له مذهب له حقیقت دي
یو حصه دلته کافي ده تلاوت له
اسانتیا دغه راغلې دي اُمت له
درې آیاته دي لوستل واړه تمام
یا آیت یو لوئې لوستل په دې مقام
دغه حکم دَ اسلام دَ شریعت دے
متفق په دې خبره ټول اُمت دے
دا واجب په هر بشر په لراو بر دي
هوښیاران له دې خبرې ښه خبر دي
هر کله چي مکمله شي تلاوت
نو بدل به مونځ ګوزار کړي خپل حالت
دَ قیام نه به رکوع ته شي روان
قیام پاتې به پوره شي دَ جهان
ورسره به تکبیر وائي دا ساعت
کوم ساعت چي بدلوي بشر حالت
په رکوع کښې دَ رکوع تسبیح لوستل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه په مينه محبت پوره وئيل دي

درې درې ځلې تسبيحات شته په رکوع کښې

ددې ډير زيات برکات شته په رکوع کښې

تل رکوع کښې دَ رکوع تسبيح مسنون ده

هر بشر له عطيه ددې ژوندون ده

په تسميع سره دې تلل ورله قيام له

دغه حکم دے راغلے خاص او عام له

وروستې به په تحميد ژبه لمده کړي

دَ مولا به ښه په مينه تذکره کړي

که تسميع ده که تحميد دواړه سنت دي

دا ثابت پوره له شريعت دي

بيا سجدې ته به روان شي په دا شان

لکه ځي چې ځوك ديدن له دَ جانان

ورسره به په تکبير ژبه لمده کړي

ربَ ته ټيټه دَ جهان به هر حصه کړي

ټيټ په زمکه به مولا ته دا بشر شي

تندې، پوزه به زمکه برابر شي

دواړه لاسه به په زمکه ښۀ تمام وي

دَ سجدې دا طريقه دَ خاص او عام وي

ده سجده په مونځ کښې فرض مونځ گزار له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمي دي اد کول غريب مالدار له
دغه شان بله سجده شته هر رکعت کښې
دوه سجدې دَ يو رکعت شوے شريعت کښې
هر سجدې ته په تکبير سره دی تلل
ځان خبر کړه، هم خبر کړه پوره بل
دې سره به يو رکعت پوره تمام شي
وروستو دَ بل رکعت شورو قيام شي
دَ سجدو مينځ جلسه په هر مقام شته
په سکون سره دا ناسته ښۀ تمام شته
دوه سجدو سره کامله به رکعت شي
دا توښه به په محشر دغه ساعت شي
بيا به اُودريږي قيام ته دويم رکعت ته
په اخلاص سره دَ ژوند دې عبادت ته
اُودريدل دي په تکبير سره قيام ته
دغه حکم دے راغلې خاص او عام ته
دويم رکعت کښې به آغاز له بسم اللّٰه وي
وروستو دَ فاتحې سورت به بيا وي
بيا آمين به وي سورت به وي رکعت کښې
خوند مزه شته دَ مولا په عبادت کښې
په تکبير سره به لاړ شي بيا رکوع ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کـــړه دغـــه طـــريـقـــه لـــويـــو وړوتـــه
پـــه رکـــوع کښـــي تسبيـــح وائـــي دَ مـولا بـــه
وائـــي دغـــه تسبيـــحـــات اعـــلا ادنـــیٰ بـــه
دري ځـــلـــي دغـــه وئيـــل پـــه دي مـقـــام دی
چـــي خبـــر لـــه خپـــل نبـــی ﷺ نـــه لـــه اسلام دی
پـــه تسـمـيـــع سـره بيـــا وروستـو اُودريـدل دی
ورســـره يـــو ځـــائـــي تـحـميـد پـوره وئيـل دی
بيـا سـجـدي تـه پـه تـکبيـر بـه مونـځ گـوزار ځـی
اطـــمـيـــنـــان ســـره پـــوره ورتـــه تيـــار ځـــی
پـه سـجـده کښـي تسبـحيـات لـوستـل پـه شوق دی
دَ ثـــواب دا کـــلـــمـــات لـــوستـــل پـــه شـــوق دی
بيـــا جـلسـي تـــه پـــه تـکبيـر سـره ده نـــاستـــه
نـــه روا دلـتـــه ولاړه ، نـــه ده مـــلاستـــه
پـــه تـکبيـــر ســـره جلـسـي نـــه پـــس بيـــا تـلـل دی
پـــاك الـــلـــه تـــه دا تـــنـدي خپـل لـــگـوُل دی
ورســـره پـــوزه لـــگـــول دی پـــه ســجـدو کښـــي
بيـــا مشـغـول کـړه ځـان ثـنـا کښـي پـه تسبو کښـي
تسبـــحـــات پـــوره دري ځـــلـــي شتـــه اسلام کښـــي
شك اُونـــکـــړي دَ احـــمـــد عـــلـــی کـــلام کښـــي
بيـــا ده نـــاستـــه ، قـــاعـده ده شـــريـــعـت کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شامله ده دَ مونځ په عبادت کښې
بیا وئیل التحیات دي هر بشر له
طریقه دَ مونځ راغلي لراوبر له
دوه رکعته کۀ وي مونځ نو بیا درود شته
وربسې بیا دُعاګاني په وجود شته
بیا سلام سره به مونځ زمونږ تمام شي
هر بشر لره روا به بیا کلام شي
هر بشر لره روا به خوراك څكاك شي
روا دۀ له تجارت به دَ املاك شي
کۀ دَ دوو نه زیات رکعته په جهان وي
طریقه به ئې هم بره دغه شان وي
بسم الله ده فاتحه او بیا آمین دے
هر عمل دَ شریعت غوره حسین دے
نیشته فرضو کښې آمین پسے سورت
چې وي دریم یا څلورم کله رکعت
نوره بره طریقه ټوله یوشان ده
ښۀ اسانه طریقه دَ مونځ بیان ده

---

## دَ مونځ فرائض

ټول پنځلس مونځ کښې فرض په بشر دي

ووۀ دننه دي ، اته ترينه بهر دي

پټول دي دَ بدن هر بشر له

فرض دغه په جهان شته لر او بر له

دَ بدن پاك والے فرض دے انسان له

مونځ چي كله كوي دلته مسلمان له

دَ مكان پاك فرض په جهان دے

مونځ ته كله چي ولاړ په دي انسان دے

په خپل وخت كښي اداكول دَ مونځ دي فرض

ركعتونه فرض تول دَ مونځ دي فرض

دَ كپړو پاك والے فرض په انسان دے

مونځ ته كله چي ولاړيو مسلمان دے

په تكبيرِ تحريمي دَ مونځ آغاز

مونځ كښي فرض دے آغاز په دي انداز

استقبال دَ قبلي فرض دے هر چا له

كه دي شك وي لاړشه لاړ شه خپل ملا له

نيت هم فرض دے هر مونځ له شريعت كښي

لازمي دے ضروري هر عبادت كښي

قيام فرض دے په مونځ كښي هر بشر له

روا نه دي پريښودل ئي لر او بر له

دا په عذر سره هر خوا پاتي كيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په ناسته حکماً دغه اداکیږي

قرات په مونځ کښي فرض دَ قرآن دے

ښه خبر له دي نه هر یو مسلمان دے

رکوع فرض ده سجدي دواړه لازم دي

دا مونځونه ورسره دلته قائم دي

ناسته فرض ده دَ مونځ په اختتام کښي

دا حکمونه ټول موجود دي په اسلام کښي

په قعده اخیري یاده په دنیا ده

ناسته دغه ضروري تل په هر چا ده

په خپل قصد ارادي سره سلام هم

فرضیت کښي دے شمیر شوے تل تمام هم

دغه فرض په هر مونځ کښي دَ جهان دي

ما احمد علی لیکلی دَ مردان دي

--------------------------------------------------------

## دَ مونځ واجبات

ځلوارلس مونځ کښي واجبات په هر مقام دي

دغه ټول مقرر کړي چي اسلام دي

کړه دَ فرضو دوه رکعته مقرر

چي قراءت په کښي کوي دغه بشر (1)

دا واجب حکم هر خوا دَ شریعت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــــهٔ خبــر لـــــه دي نـــــه دلتـــــه دا اُمـــت دے
فـــاتـــحـــه لـوستـل واجـب دی هـر بشـر لـــه(2)
دَ تــــصــــديــــق دَ پـــاره لاړ شـــــه مـعتبــر لـــــه
پــــــه اول دوو ركــعتــونــو كښــــي ســورت(3)
واجــــب حــكـــم لـــري دغـــه هـــر ســاعـــت
دَ سجدو پـه مينځ كښـي نـاستـه پـه ښهٔ شان(4)
جـلســـه مـونـځ كښـي ده واجـب پـه هـر انسـان
پـــه قـعـده اُولــىٰ كښـي نـاستـه پـه هـر در(5)
پـــــــه مـــقـــدار دَ تشهـــد پــــــه لـــرا و بـــــر
واجـب نـاستـه ده پـه مـونـځ كښي هر بشـر لـه
راشــــه ديــن لـــه حـقيـقـت لـــه حـق خبـر لـــه
پـه اركـانـو كښـي تـرتيـب پـه شريعـت شتـه(6)
واجـب حـكـم ورلـه دلتـه هـر سـاعـت شتـه
دَ ركـــوع نــــه پـــس قـــومـــه چـي اداكيــږي(7)
ســجــده ســهـــو ئـــي پـــه تــرك تـل لازميــږي
تشهــد دواړو قـــعـــدو كښـــي هـــم واجـــب دے(8)
ښـــه خبـــر لـــه دي نـــه هـــرخـواتـــه طـالـب دے
فـــاتــحـــي پســـي واړه دري أيـــاتـــونـــه(9)
يـــــا واړه واړه لـــوستـــل دی ســــورتــونـــــه
يــــا وئيــــل دی وريـســـي دَ لـــوئـــي أيـــت تـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واجبو کېږي دے شمير په شريعت تل
ضروري دے ورسره هم اطمينان
چې ادا شي په سکون ددين ارکان
يو واجب له واجباتو نه قنوت دے( 10)
فاتحي کېږي په امام پسے سکوت دے( 11)
تکبيرونه دي واجب دَ هر اختر( 12)
ياد ساتي دغه دُنيا کېږي هر بشر
دَ خپل مونځ نه په سلام سره وتل( 13)
واجب دي په حق کلام سره وتل
ماسختن په هر وروکي لوئي اختر کېږي( 14)
هم په وترو په رمضان کېږي په سحر کېږي
دَ جمعي دَ تراوو هم دَ ماښام
تيز آواز سره لوستل دي په امام

------------------------------------------------

## ومونځ سنت

ټول دي يوويشت سنتونه په قياس( معنیٰ اندازه)
اُوچتول دي دَ غوږونو پوري لاس( 1)
دويم تلي چي دَ قبلي په استقبال شي( 2)
ګتي ورسره چي پاتي په خپل حال شي( 3)
نيغ ساتل دي دَ تکبير په وخت کېږي سر( 4)

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا سنت دی دَ حضرت خیر البشر ﷺ

لاس تړل عمل مسنون په هر مقام دے (5)

دا عمل پوره ثابت له دین اسلام دے

په شورو کښې دَ ثنا لوستل سنت دی (6)

دا اعمال دَ پاك نبی ﷺ دَ ټول سیرت دی

تعوذ مسنون عمل اول رکعت کښې (7)

ښه شوق سره لوستل اول رکعت کښې

تسمیه په رکعت کښې ده مسنون (8)

رنګانې دا ښکلا ده دَ ژوندون

هم آمین سنت عمل دَ پیغمبر ﷺ دے (9)

پرهیزه سرې ښه پوره خبر دے

مَلا او سر دې برابر وی ستا رکوع کښې (10)

مدام یاد ساته هر خواته دا رکوع کښې

په قومه کښې دَ تسمیع (11) سره تحمید (12)

دا مسنون اعمال دی ترك لری وعید

په سجده کښې دی اول پنډې لګول (13)

بیا لاسونه خپل تندې برابرول

ګسه خپه دی خورول په لر او بر

چې جلسه (14) یا قعده (15) کړې یو بشر

اُودرول دی دَ خپې دی داسې په جهان (16)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـولــي ګـتــي چـي قبـلـي تـه کـړي انســان
خپــل لاســونــه پــه پتــول بــرابــرول دی( 17)
مســنــون هــر خــواتــه عـمـل مـدام دا کــول دی
دا اعــمــال دَ شــریــعــت پــوره مســنــون دی
رنــاګــانــي هــر طــرف تــه دَ ژونــدون دی
تشهــد کښــي خپــلــه ګتــه اُوچتــول( 18)
بیــا پــه اشهــد ســره اشــاره کــول
دا مســنــون عــمــل ثــابــت لــه شــریـعـت دے
هـر عـمـل کښـي پټ پـه پټـه څـه حکـمـت دے
پــه قـعـدهٔ اخیــرنــي کښــي هــم درود( 19)
پــه ســنتــو کښــي مــدام لــري وجُــود
پــه درود پسـي دُعــا شتــه شـریـعـت کښـي( 20)
شك ددي خبــري نیشتــه پــه ســنــت کښـي
ګــرځــوُل دی پــه طــرف دَ نبــی ســلام( 21)
بیــا پــه ګــس طـرف بــه مـونـځ شی تـول تـمـام

---

## دَ مونځ مستحبات

پــه مــانــځــه کښي تول پـنـځـه مستـحبـات دی
دَ افــضــل غــوره مــونــځــونــو دا صــفــات دی
دَ لستــونــو نــه لاســونــه چــي بهــر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحب به خامخا په لر او بر وي
په رکوع او په سجدو کښې درې نه زيات
مستحب وئيل راغلي تسبيحات
حکم دغه منفرد له په جهان دے
امام دې نه استثنیٰ په هر مکان دے
دَ سجدې ځائې ته کتل دي په قيام کښې
دا اداب دَ مونځ ګوزار دي په اسلام کښې
خپلو خپو ته په رکوع کښې تل ګوري
په رکوع کښې خپلو خپو ته کړي نظر
چې له دين او له اسلام وي ښه خبر
مستحب دغه عمل دے هر بشر له
دا راغلي په اسلام کښې لر او بر له
په جولي باندې نظر به کړي جلسه کښې
هم نظر به په جولي ساتي قعدې کښې
په اوږو باندې نظر وي په سلام کښې
هر يو امر دَ اسلام دے خپل مقام کښې
مستحب دي اسويلو کښې خله بندول
هر عمل په اطمينان سره دي کول
په ښې لاس باندې خله بنده کړه قيام کښې
نور دَ ګس لاس حکم شته په هر مقام کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ مونځ مکروهات

هغـــه کـار چـې شـريـعـت کـښـې نـهٔ خـوښـيـږي
پـــه نــامـــه بـــه دَ مــکـــروه هـغـــه يــاديـــږي
مــونــځ کـښــې سـدل دے مکـــروه هـــريــويــشــرلــه
دغـــه حـــکـــم دے غـــريـــب لـــه هـــر افـســـرلـــه
چـــې ځــــادر دې زوړنـــد کـــړې وی پـــــه ســـر
دغـــــه سـدل دے لـــــه سـدل شـــــه خبـــر
لـــويـــې مـــونـــځ کـښـې دَ کـپـړو ســره مـکـروه دی
ځـــنـگ چـــې لـــويـــې دَ ويـښـتـو ســره مـکـروه دی
دَ کـپــــړو راغـــنـــدول مـــنـــع دی مـــونـــځ کـښـــې
يـــا کـپـــړو لـــه خـــوروُل مـــنـــع دی مـــونـــځ کـښـــې
مـــونـــځ مـــکـــروه دے چـــې کـپـــړے دَ حـقـارت وی
تـك ورســـــره هـــر مـــحـــل تـــــه پـــــه نـفـــرت وی
دغـــه حـــکـــم لــــری خـــلـــهٔ کـښـــې ځـــه نيـــول
ورســـــره پــــه دې جـهـــان کـښـــې مـــونـــځ کـــوُل
بيـــا لـــوسـتـــل چـــې ځــــهٔ وی خـلـهٔ کـښـې دَ قـــرآن
مـــونـــځ گـــزار لـــه روا نـــه دے پـــه هيـــڅ شـــان
مـــونـــځ کـــول دی پـــه سستـــی ســـره ســرتـــور
مـــکـــروهـــاتـــو کـښـــې شـــامـل دے پـــه هـــر کـــور
چـــې حــــاجـــت لــــری دَ بـــول کـــلـــه انـســــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــونـــځ مـــکـــروه دے دا ســـاعـــت پـــه دې جـهـــان
کـــــانـــــې دارنګ لــــر کـــوُل دَ مـــونـــځ ګـــزار
لانـــدې زمـــکـــــه بـــانـــدې لاس وهـــل بـــار بـــار
مـــکـــروهـــاتــو کښـــې شـــامـــل پـــه هـــر قـدم دے
شـــــه خبـــــر لـــــه دې هـــــريـــو مـــحتـــرم دے
خپـــلـــو ګـــوتـــو نـــــه تـــکـــونـــــه دی ويستـــل
يـــــا لاســـــونـــــــه دَيـــو بـــــل ســـــر مـــــړل
دغـــــه مـونـــځ کښـــې لـويـــې کول دَ هـر بشـــر دی
مـــکـــروهـــاتـــو کښـــې شـــامـــل دا پـــه هـــر در دی
اخــــوا ديــــخــــوا مـــخ قبـــلـــــې نــــــه اړوُل
مـــونـــځ ګـــزار لـــــه دی مـــکــــروه دغـــــه کـــوُل
نـــاستـــــه مـنـــع ده دَ سپـــی پـــه رنګ ، انســـان لـــه
مـــکـــروهـــاتــو کښـــې شـــامـــل ده مسلـمـــان لـــه
دَ پتـــکـــی پـــه تـــاؤ سـجـــده کښـــې کـراهـــت دے
لـــوئـــې کـــمـــې دې جـهـــان دَ عبـــادت دے
خــــوروُل هــــم دَ لاســـونــــو پـــــه دا شــــان
چـــې پـــه زمـــکـــه شـــی څـنـــګـلـــې دَ انســـان
دا ســـجـــدو کښـــې هـــر بشـــر لـــره مـکـــروه دی
دا غـــريـــب لـــــه هـــر افســـر لـــره مـکـــروه دی
دَ ســـنتـــو خـــلاف مـــونـــځ کښـــې کـــوُل کـــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکروه دغه دے عمل دَ مونځ گوزار
ختمول دَ مونځ گوزار خپله سستي
چي پيدا په غزيدلو کړي چستي
دا مکروه عمل هم شته په هر قدم
ورسره شي رحمتونه هر خوا کم
هم شميره دَ اياتونو ده مکروه
هم شميره دَ نور ځيزونو ده مکروه
بندول هم په ځادر کښي خپل لاسونه
مکروهاتو کښي راځي دغه ځيزونه
په کپړو دَ ساه لرونکي ځيز تصوير
مونځ مکروه دے ورسره په هر تحرير
چي خالي وي مخ کښي صف له ابتدا
نو مکروه دي اودريدل وروستو جدا
شے يا کس يا مخامخ لاندي تصوير
مونځ مکروه دے ورسره په هر تحرير
اودريدل هم دَ امام بره اُوچت
دا عمل لري په مونځ کښي کراهت
اُوچت والے چي دَ يو لاس په مقدار وي
مکروه مونځ به هله دا دَ مونځ گوزار وي
اُودريدل تول په محراب کښي دَ امام

مکروهاتو کښې شامل دے دا تمام
که څه لږ وي رابهر امام محراب نه
دَ مکروه حکم به لاړ شي دغي باب نه
پټول لري دَ سترګو کراهت
مسلمان چې کړي دَ مونځ دا عبادت
اسویلي هم راویستل په خپل اختیار
مکروهاتو شامل دے په هر دار
جُنبته ناسته هم مکروه په دې جهان ده
مونځ کښې ناسته چې کله دَ مسلمان ده
دَ سلام جواب ورکول په اشاره هم
مکروهاتو کښې بهر ده نظاره هم
دغه تول دي مکروهات په مقام
نور ددې نه علاوه هم شته احکام

.........................................................................

## نواقص دَ مونځ (دَ مونځ ماتوُنکي څیزونه)

مونځ دَ پاره ماتوُنکے هر کلام دے
یا سلام کوُل، جواب یا دَ سلام دے
مونځ کښې مخکښې مقتدي چې له امام شي
مونځ به مات دَ سجدې او دَ قیام شي
دَ بالغ سړي په زوره چې خندا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونځ ماتیږي چې له غم ډکه ژړا وي
هم دَ مونځ دے ماتونکے هغه سوال
له مخلوق چې دَ غوښتو لري مثال
اُف یا اه ویستل له درد یا دَ څه غمه
مونځ ماتیږي ورسره اے محترمه
غلطي لویه په قرآن کښې دَ بشر
مونځ ماتیږي ورسره په لر او بر
دي قرآن ته په کتلو دَ انسان
مونځ ماتیږي ، چې ئې لولي مسلمان
مونځ چې څنګ په هر کلام سره ماتیږي
په ګنده ځائي کښې قیام سره ماتیږي
دَ قبلې چې کله ختم استقبال شي
مونځ به مات دَ مونځ ګوازه دغه حال شي
شرط په کښې دے چې بې عذره دا عمل وي
هله حکم ورسره به دغه تل وي
دا انسان چې کله مونځ کښې بې پردې شي
مونځ به مات ددې بشر په هر حصې شي
هم وئیل سبحان الله په څه خبر
مونځ ماتیږي ورسره دَ هر بشر
په ترجیع ماتیږي مونځ دَ مونځ ګوزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــاد ســاتــه تـول دَ احـمـد عـلـى اشـعـار
صـورتـونـه شتـه دے نـور هـم پـه جهـان
بـس كـافـى دے اختـصـار لـه دا بيـان

---

دَ پنځه وخته مونځونو بيان

تـول پـنـځـه وختـه مـونځـونـه پـه انسـان دي
فـرض كـړي پـه مـعـراج كښـي پـاك سبحـان دي
دَ سـحـر، مـاسپـخيـن، مـونـځ دَ مـازيـګـر
خـامـخـا بـه دا كـوي هـريـو بشـر
دَ مـابنـام، ورسـره مـونـځ دَ مـاسـخـوتـن
دا دي فـرض د دُنيـا پـه هـريـو تـن
چـي آزاد وي مسـلـمـان وي او دانـا وي
بـالـغ شـوے ورسـره هـم پـه دُنيـا وي
هيـڅ څـه عـذرورتـه نـه وي دَ جهـان
هيـڅ څـه عـذر نـه لـري دغـه انسـان
فـرض دے پـه دي شـرطـونـو سـره مـونـځ
ربَ تـړلـي خپـل وختـونـو سـره مـونـځ
پـه سـحـر كښـي دي سـنـت دوه ركـعتـونـه
ورسـره آبـاد سـاتـي مـدام كـورونـه
دوه دي فـرض ورپسـي دَ شـريـعـت بيـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا دغه کول دي هر ساعت بیا

بې له عذره درنه پاتې نه شي وروره!

پابندي کړه دَ وختونو وخت ته ګوره

ماسپخین کښې دي اول سنت څلور

هر بشر دي کړي ادا دغه په کور

څلور فرض ورپسې دَ شریعت دي

دا ډالۍ دَ پاک الله ربّ العزت دي

ورپسې دوه دي سنت دَ پیغمبر ﷺ

دوه شته نفل ورپسې هم معتبر

په اول دَ مازیګر کښې هم سنت شته

درته پته کۀ پاک نبی سیرت ﷺ شته

دوه ، څلور هم نقل شوی په سیرت دي

نقل شوی په سیرت کښې له حضرت دي

که څلور کوې یا دوه په کښې اختیار دے

شریعت کښې دا عمل دَ نیغې لار دے

ورته غیر مؤکده وائی جهان

هر طرف ته په دُنیا کښې عالمان

څلور فرض ورپسې دَ مازیګر دي

زرګران له زرو قدر نه خبر دي

فرض درې رکعته مونځ کښې دَ ماښام دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل شوے شریعت کښې دا تمام دی
دوه سنت وریسې وروستو دَ حضور ﷺ دی
نوافل له دې نه وروستو وروستو نور دی
دوه یا شپږ رکعته نفل دلته کښې دی
دَ محشر دَ پاره تل په کښې مزې دی
ماسخوتن کښې دی اول سنت څلور
دغه غیر مؤکده دی په هر لور
څلور فرض وریسې دَ ربَ اکبر دی
بیا سنت وریسې دوه دَ پیغمبر ﷺ دی
نفل دوه دی وریسے په لر او بر
غواړی دلته نفل کول کۀ یو بشر
بیا دَ وِترو درې رکعته په جهان دی
دا واجب په هر مؤمن او مسلمان دی
دوه نفلونه وریسې شته په دُنیا کښې
کۀ زیات والے دَ جهان غواړے رڼا کښې
په جمعه کښې دی اول سنت څلور
تالیدلے په کولو به وی ورور
دوه رکعته فرض مونځ دے په جمعه کښې
دا لازم په هر بشر دے ښاریه کښې
بیا سنت څلور رکعته وریسې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محشر دا رڼاګانې دي مزې دي

دوه رکعته ورپسې شته دے هم نور

اداکيږي به په شوق دا په هر لور

ورپسې شته هر طرف ته دوه نفلونه

ښه په شوق سره پکار دي ټول مونځونه

---

## دَ سنت مؤکده ، غير مؤکده مونځونو بيان

نوم به تاوي اوريدلے دَ سنت

رڼاګانې دي دَ دين دَ شريعت

دا سنت دي په دوه قسمه د جهان

مؤکد ، غير مؤکد شته دَ جانان ﷺ

دوه سنت مؤکده دَ هر سحر دي

ماسپخين کښې شپږ راغلي په هر در دي

سنتونه دوه رکعته دَ ماښام دي

ماسخوتن کښې دوه موجود په هر مقام دي

تراويح هم تهجد سنت اعمال دي

رڼاګانې هر بشر لره هر حال دي

---

تمت بحمد الله تعالىٰ وبتوفيقه ....ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا

انك انت التواب الرحيم وصلى الله تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد واله واصحابه

اجمعين ومن تبعهم باحسان الىٰ يوم الدين . آمين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**